# څلرمه فیصله

۱۳۳۷ ش

۵-۸ د وږی
۲۷-۳۰ اګست

ځای : په کابل کې

د شاملینو شمیر : ۱۲ تنه د افغانستان او ۸ تنه د پښتونستان پلکوال

www.Qamosona.com

بسم الله الرحمن الرحیم

نن چه له ښه مرغه د افغانستان دخپلواکۍ د بېرته ګټلو څلویښتم تلین په مناسبت دلرې او برې پښتونخوا درانه لیکوال دافغانستان په مرکز (کابل) کښې د پښتو او پښتنولۍ په مینه راټول دي ډېره ښه وي چه دخپلې ملي ژبې درسم الخط په باب پخپلو کښې سره وغږیږي او دا ضروري موضوع سره وڅیړي.

که خدای کول چه ددې دوستانه بحث او څیړنې په نتیجه کښې دپښتو رسم الخط ځینې اختلافات چه اوس د پښتو لیکوالو ترمنځ موجود دي د پښتو ژبې داملائي وحدت دتامین په غرض لیرې او دپښتو لیک له تشتت څخه خلاص کړی یقیناً چه دا به دپښتو ژبې دپرمخ تلګ او تعمیم له پاره یو ګټور اقدام وي.

درسم الخط اتحاد موضوع چه دپښتو ژبې دارتقاء په برخه کښې یوه اساسي موضوع ده له ډېره وخته ئې د پښتو ټولنې او پښتنو لیکوالو توجه خپلې خواته را ګرځولې او په دې باب تر اوسه پورې (۳) مجلسونه شوي دي چه هر یو یې دنتیجې په لحاظ مفید او داهمیت وړ ګڼل کیږي دتېرو مجلسونو مصوبات «هغه چه یوازې دافغانستان د لیکوالو ترمنځ شوي دي» د تایید او نوي پیشنهاد دفیصلې او تصویب له پاره دلته بیا وړاندې کیږي په درناوی.



الف: د(۱۳۲۱) ش کال دجوزا په یو ویشتمه (۱۹۴۲ ع کال دجون یوولسمه) په کابل کښې د پښتو ټولنې په غونډه دافغانستان د(۲۵) تنو لیکوالو ترمنځ مجلس وشو، په دې مجلس کښې پر(۲۱) اختلافي موادو باندې په اتفاق تصویب وشو چه دتصویب صورت ئې دادی:

۱- ځینې لیکوال چه دجمع مذکر په صفت کښې مثلاً ځلکه (ټول هلکان) (ټول خلق) (ټوله هلکان) یا (ټوله خلق) لیکي حتمي ده چه په داسې موارد کښې (ټول) و لیکی او (ټوله) ونه لیکي. همدارازدجمع مؤنث دصفت لکه (ټولې طیارې) دپاره باید (ټوله طیارې) ونه لیکلې شي. داځکه چه په داسې مواردو کښې د(ټوله) په ځای د (ټول) لیکل حتمي دی.

۲- د (شونډې) په ځای چه د (شونډه) جمع مونث ده، (شونډان) باید ونه لیکل شي.

۳- په (کښېناست) او (کښېنوست) کلمو کښې لمړنی غوره ګڼل شوی، ځکه وروستنی دې په لیکنو کښې متروک وي.

۴- په (پاته) او (پاتې) کلمو کښې لمړنی غوره وګڼل شو.

۵- (وای) دا کلمه په هغه ځای کښې چه دتمنا دپاره استعمالیږي، باید له (الف) سره ولیکله شي.

۶- د (لو) او (تو) په مقابل کښې (لوبه) او (توبه) مرجحه ده او په

خپلو لیکنو کښې باید دوه ورو ستیو کلمو ته حق ور کړو، یوازې د شعري ضرورت دپاره کېدای شي چه (لو) او (نو) ولیکل شي .

٧- د ماضي افعالو د واحد مذکر صیغه چه په څو صورتو لکه (ولید) (ولیدو) (و لیدی ء) او نور لیکل کېږي یوازې یو صورت (ولید) او هم د غه نور غوره و ګڼل شو. نور صورتونه یې په لیکنو کښې متروك و ګڼل شول؛ یوازې د غو مره ده چه په ځینو مصدرونو کښې د دې صیغې په آخیر کښې د (ه) اضافه کول ضروري دي لکه (وتاړه) او داسې نور .

٨- هغه کلمې چه د عات په نورو لیکلې کیږي لکه (میړونه) د هغه نورو صورتونو په مقابل کښې چه بې د علت د نورو لیکلی کیږي لکه (مړونه) غوره ګڼلې شوي دي. یوازې د [اخ] کلمه د [لوخ] په مقابل کښې په مجلس کښې مستثنی شوه.

٩- لاندې کلمې لکه [وشو] [شوی] [شته] [شي] او داسې نورې چه ځینې یې په [وسو] [سوی] [ سته] [سي] سره لیکي باید په لمړي صورت یعنې یوازې په [ش] سره و لیکلی شي.

١٠- ځینې لیکوال چه د [ښه] او [لږ] کلمې د مذکر او مونث موصوف سره یو ځای د مفرد او جمع فرق یکښې نه کوی او یو راز یې ور سره لیکي یعنی [ښه خبري]، [لږ ودی] او [لږ اوبه] لیکي باید د مفرد او جمع، مونث او مذکر مراعات پکښې و کړي یعني [ښې خبرې] [لږه ودی] او [ لږې اوبه] دې و لیکي.



١١- ځینې لیکوال چه د [وی ء] او [بی] په ځای [واست او [یاست] لیکي د واړه صورتونه ازادو ګڼل شول .

١٢- [غبز] او [ږغ] چه په لیکنو کښې په دواړو ډولو لیدل کیږي، دواړه صحیح دی .

١٣- د [ ځینې] او [ ځنې] کلمې چـه لمړی د [ بعضی] او وروستی د [از] معنا لري باید هر یو په خپل ځای کښې استعمال شي.

١٤- [چلوونکی] [ کوونکی] [ښوونکی] [ښوونځی] او داسې نور باید په دوه واو نوو لیکل شي .

١٥- د [ کښې] د کلمې په اخر کښې باید یوه مجهوله [ې] اضافه شي او [ کښې ] و لیکل شي.

١٦- دا راز جملې لکه (احمد ستړ ګی اری پلار بری نه وینی) باید د (پلار یې نه وینی) و نه لیکلی شی ځکه چه دا ډول حذف او تخفیف دژبې ښه ست وراننوی .

١٧ ځینې لیکوال چه د (ویل) په ځای او) یله لیکي باید (ویله) په خپل خاص ځای کښې استعمال کړی مثلا: (احمد ویله چه پانګه له سپما څخه جوړ یږی) باید ترك شي . خو دا چه ( احمد سند ره و یله) صحیح دی.

١٨- د « تلل» د مصدر ماضي باید په «و او» سره «ولاړ» و لیکل شي او بې واو «لاړ» دې متروك وبېژندل شي .

١٩- د «و کی» « کی» «و کیء» کلمو په مقابل کښې دا کلمې

«و کړی» «و کړ» «و کړې» غوره وګڼل شوې چه باید په لیکلو کښې یې مراعات وشي.

۲۰- «مونږ» دې په «ن» سره ولیکل شي.

۲۱- «زما» «زه» «زمونږ» دې په «ز» سره ولیکل شي.

پورتنۍ مادې د ۱۳۲۱ کال د جوزا په «۲۱» په هغې غونډې کښې چه د پښتو ټولنې له غړو او د پښتو ژبې له ستړو پوهانو څخه جوړه وه، تصویب او ومنل شوې الفت- رښتین- خادم- عبدالغني- محمد رسول محمد رفیق قاسم واسعي- پژواک- بېنوا- سیفي- عبدالله افغاني نویس سعید- غلام حسن ساپی- زمربالي- جرار صوفي عبدالحمید «د مجلس رئیس» او رادالدین- محمد اعظم ایازی.

☆ ❁ ☆

۱- د لومړۍ فیصلې په «اتلسمه» ماده کښې داسې تعدیل وشو. «لاړ» او «ولاړ» دې دواړه آزاد وي.

۲- د لومړۍ فیصلې په «شلمه» ماده کښې داسې تعدیل وشو. «مونږ» او «موږ» دواړه ومنل شول.

۳- د لومړۍ فیصلې په «څلورمه» ماده کښې «پانې» تر «پاڼه» غوره شو.

۴- د لومړۍ فیصلې په «اتمه» ماده کښې د «لښ» استثناء لغو شوه او «لوښ» ومنل شو.

د ۱۳۳۷ ش کال د سنبلې په پنځمه، د ۱۹۵۸ ع کال د اګست



او ویشتمه د کابل د پښتو ټولنې په میلمستون کښې دا لړو بری پښتونخوا د پښتنو لیکوالو ترمنځ د پښتو رسم الخط د لومړۍ فیصلې په باب پورتنۍ «څلور» تعدیلات ومنل شول.

ګل پاچا الفت «د مجلس رئیس» مراد شینواری مولانا عبدالقادر «د پېښور د پښتو اکاډمۍ مشر» صاحبزاده محمد ادریس «د پېښور د پوهنتون استاد» حمزه شینواری فضل احمد غازي «د ګلستان د مجلې مدیر» فضل حق شیدا «د پېښور د مطبوعاتو آمر» صدیق الله رښتین حبیب الله تږی مولانا عبدالخالق نارنی سلطان محمد صابر محمد عالم امان عبدالرؤف بېنوا محمد ارسلان سلیمي مولانا عزیز الرحمان سیفي میراجان سیال عبدالشکور رشاد محمد حسن ساپی محمد حسن کاکړ عبدالغفور ویاند.

نوټ:

د پښتو رسم الخط په باب لومړۍ فیصله د ۱۳۲۱ ش کال د جوزا په پورویشتمه «۱۹۴۲ ع د جون ۱۱» په کابل کښې د پښتو ټولنې په غونډه کښې چه د افغانستان د «۲۵» تنو لیکوالو ترمنځ شوې وه، له پورتنیو څلورو تعدیلاتو نه پرته نور مواد ټول د لری پښتونخوا د کابل نه راغلو لیکوالو له خوا تائید شول.

۱۳۳۷ ۱۹۵۸

ب- د ۱۳۲۷ش کال د سنبلې په اتمه «۱۹٤۸ع کال د اگست دیرشمه» په کابل کښې د پښتو ټولنې په غونډه کښې دلرې پښتو نخواد «۸» او د برې پښتو نخواد «۱۱» تنو لیکوالو ترمنځ مجلس وشو په دې مجلس کښې «۱٦» اختلافي مواد په اتفاق تصویب شول د تصویب صورت یې دادی .

۱- «ڼ» «نړ» د اخرف په حلقه وال نون «ڼ» لیکل کیږی او د «نه» د غږ قایم مقام به وی ددې نوري نوم به «ڼه» یعنی «نړه» وی.

۸- «زه» «ده» «ښه» «نه» په کلمو کښې د «ه» له پاسه د «٦» 6
لیکلو ته ضرورت نشته نو ترمخکښې زور وال او زور کی وال تور ووروسته « » به دوا ډه بو شان لیکلی شی .

۳- مجهوله «یا» به په منځ کښې په دوه لاندې باندې تکو او معروفه «ی» به په دوه څنګ پر څنګ تکو لیکلی شی لکه هېر مېل او په آخر کښې اوږده «ې» او ګرده «ی» چه تکی ئی لاندی باندې وی «ې» دواړه صحیح دی .

٤- د پښتو کلمی لکه اخیستل او بدل او داسی نوری به په مدنه لیکلې کیږی .

۵- د «ې-دی- تری- بری- لاندی- باندې او داسی نورو کلمو کښې باید د «زبر» په ځای «ی» ولیکلی شی- دغه شان «بوخت- ګودګوته- لومړی کوچنې او داسې نوری کلمی باید په «و» ولیکلې شی .



٦- د «چهاپ» «ګهری» او داسی نورې کلمې چه پهار دو کښې په «ه» لیکلې کیږی په پښتو کښې بی «ه» صحیح دی .

۷- د پښتو «ښ» «ږ» به په هغو کلمو کښې لیکلې کیږی چه په اول کښې بې «خ- ش» او په درهم کښې بې «ګ» «ژ» غږونه موجود وی او که صرف یو آوازولری هغه به په «خ» یا «ګ» لیکلی شی لکه د خور «خواهر» ستر ګه او داسی نور دغه شان «زېره» او ټول حالیه افعال به په (ز) لیکل کیږی لکه یاځیږی غوږ ځیږی او نور .

۸ - د «تلل» د مصدر او د هغه مرکبو مصدرونو فعل حال په پښتو «ځ» صحیح دی لکه «ځی» راځی- درځی بوځی او د باقی نورو داسې مصدرو او فعل حال د «هوز» په زاء» لیکل په کاردی لکه پرزی غورزی- پریوزی کښیوزی- او نور به هم په (ز) لیکلی شی .

۹- د ماضی مطلق او حال امر تولې صیغی چه په الحاقی «و» جوړیږی د هغو په سر کښې د «الف» لیکلو ته ضرورت نشته او بې الفه به لیکل کیږی لکه وکوت ولیده- وګوری- وغورځید «؟»

۱۰- د «ژوند- ژی- بیژندل ژور» د کلمو لیکل په دری تکی «ژ» صحیح دی .

۱۱- د ځینی کلمه چه د بعضی به معنی وی په پښتو «ځ» او منځنۍ «یا» صحیح ده او د «از» په معنی بی «ب» صحیح ده لکه ځینی ځلق له تا ځینې می واخیست .

۱۲- د(ویل) په ځای (وي) یوازې په شعر کښې روادی او بېله شعره به (ویل) لیکل کېږي.

۱۳- د «کښې» نوری لیکل دیای په «ي» سره صحیح دی.

۱۴- د ماضی بعید ضمیرونه به په دې وروستنه صورت لیکل کېږي «م- وو- وی- وې- ود- وه- وې» یعنی دجمع مذکرله پاره به «و» او د مفرد مونث له پاره «وه» صحیح دی

۱۵: د «وشول» د مصدر افعال به دې شان راځی «وشوم، وشوو، وشوی، وشوې، وشو، وشول وشوه، وشوې» یعنی دجمع متکلم په آخر کښې «وو» او د مفرد مذکر غایب په پای کښې به «و» او دجمع مذکر غایب په آخر کښې «ل» لیکل صحیح دی مګر په جمع مذکر کښې چه کوم «ل» مصدر مبتدا واقع شی په مخفف ډول «وشوو» هم راتلای شی لکه لیدل و شوو دغه شان به نورو افعالو کښې هم باید دجمع مذکر غایب صیغې په «ل» ولیکلی شی لکه هلکان راغلل او داسې نور...

۱۶: تولې مطلقې ماضی ګانې دمفرد مذکر غایب لپاره په موقوف صورت یعنې بېله «ی» وځخه راځی لکه وایه و کوت، وکړ، وغورزید وچلید.

مګر په کومو مصادرو کښې چه موقوف صورت مستعمل نه وی هلته دغه صیغه په زور کی واله «ه» راځی لکه ونازه - وژاړه - وواهه وشاره او داسې نورو صیغو کښې د «الف» لیکل هم ضروردی.



مونږ د سرحد ځینو ادیبانو او د افغانستان لیکوالو د سنبلې په اتمه د ۱۳۲۷ ش او د اګست د پرشمه ۱۹۴۸ ع تاریخ په کابل کښې یوه ټولنه وکړه او په هغې کښې مو په اتفاق سره د پښتو دځینو حروفو او کلمو په باب یو رنه فیصلې وکړې چه مونږ ټول به پس له دې له هغو سره سم د پښتو حروف او الفاظ لیکو او د هغو په تعمیم کښې به کوښښ کوو.

لاس لیک کوونکی.

د پېښور له خوا.

مولانا عبدالقادر. عبدالخالق خلیق، حکیم - انوارالحق، امیر حمزه شینواری - محمد نواز ختک - سید رسول رسا - خانه میر هلالی ملک سیدال شینواری.

دافغانستان له خوا.

شمس الدین مجروح. بینوا رښتین، خادم. الفت. مولوی عبیدالله صافی - سلیمی. اخلاص میوندوال. پکتیانی محمدنور.

## لومړی غونډه.

۱ – په لاندې مقلوباتو کښې غوره شوی اشکال دادی.

مقلوبات

| ۱ | ۲ | مرجح شکل |
|---|---|---|
| سپېرلی | پسرلی | دواړه و منل شول |
| لحمکه | مځکه | لحمکه |
| زمری | مزری | زمری |
| کښته | ښکته «خکته» | کښته |
| پښه | ښپه «خپه» | پښه |
| کښېل | ښکل «دلیکل او ایستل په معنی» | کښېل |
| کښلی | ښکلی «دحسین په معنی» | ښکلی |
| کښلول | ښکلول | ښکلول |
| ماخوستن | ماسخوتن | ماسخوتن |
| ورځ | روځ | ورځ |
| موږی | مږوی | موږی |
| ږغ | غږ | دواړه ومنل شول |
| لوبشت | ولیشت | لوبشت |
| ورك | روك | ورك |
| خسر | سخر | خسر |
| خوسا «خسا» | سخا | خوسا |



سکروته سرونکه - سکورته    سکروته

۲ - په محذوف او محذوف منه کلماتو کښې غوره شوی اشکال دادی:

| محذوف | محذوف منه | غوره شکل |
|---|---|---|
| رور | ورور | ورور |
| رونه | درونه | ورونه |
| رورولی | ورورولي | ورورولی |
| روسته، روستی | وروسته، وروستی | ورسته، وروستی |
| سوری | سیوری | سیوری |
| اخم اخی | اخلم اخلی | اخلم اخلي |
| آلم، آلی | | |
| بښل، بښنه | بخښنه، بخښل | بښل، بښنه |
| خور | خپور | دواړه ومنل شول |
| ما پښین | ماز پښین - ماسپښین | ماسپښین |
| کم | کوم | کوم |
| سور | سپور | دواړه و منل شول |
| کنځل - کنځا | ښکنځل - ښکنځا | دواړه ومنل شو |
| اخل | اخښل - آغږل | اغږل |
| مري «جامه» | نمری | نمری |

۳ - په لاندینو کلماتو کښې چه د «ز» او [ځ] دواړه مروج دی غوره شوی اشکال ئې دادی.

| د «ز» شکل | «ځ» شکل | غوره شوی شکل |
|---|---|---|
| زوی زامن | ځوی- ځامن | زوی- زامن |
| زېږېدل | ځېږېدل | زېږېدل |
| زغستل | ځغستل ځغښتل | زغستل |
| زلمی | ځلمی | ځلمی |
| سوزل - سیزل | سوځل سیځل | سوځل- سیځل |
| زمکه | ځمکه | ځمکه |
| زمری | ځمری | زمری |
| خوزېدل | خوځېدل | خوځېدل |
| غورزنګ | غورځنګ | غورځنګ |
| زغمل | ځغمل | زغمل |

٤- ځینی کلمات چه په (ژ) . (ز) او (ج) لیکل کیږی په (ژ) لیکل ئې غوره مو ګڼل شولکه:

| د «ژ» شکل | د «ز» شکل | د «ج» شکل | مرجح شکل |
|---|---|---|---|
| ژرنده | زرنده | جرنده | ژرنده |
| ژاوله | زاوله | جاوله | ژاوله |
| ژبه | زبه | جبه | ژبه |
| ژړا | زړا | جړا | ژړا |
| ژوند | زوند | جوند | ژوند |



| | | | |
|---|---|---|---|
| ژمی | زمی | جمی | ژمی |
| ژوبل | زوبل | جوبل | ژوبل |
| ژوبله | زوبله | جوبله | ژوبله |
| خېژی | خېزی | خېجی | خېژی |
| ژی | زی | جی | ژی |
| ژور | زور | جور | ژور |
| نژدې | نزدې | نبږدې | نژدې |

٥- په ځینو کلماتو کښی چه د ځینو حروفو ابدال موجود دی غوره شوی اشکال ئې دادی:

| مبدلات | | | غوره شوی اشکال |
|---|---|---|---|
| نمر | لمر | | دواړه شکلونه و منل شول |
| نمی | لمسی | | دواړه شکلونه ومنل شول |
| نموځ نمارځنه | لمونځ- لمانځه | | دواړه شکلونه ومنل شول |
| جینۍ | جیاوۍ- نجلۍ | | جینۍ - نجلۍ |
| نمر | لمبر | | لمبر |
| نونس | نولس | | نولس |
| وېره | بېره | اېره | وېره |
| وېده | بېده | اوده | وېده |
| وېاله | بیاله | واله | وېاله |
| اودل | اوبدل | اوبل | اودل - اوبدل |

| | | | |
|---|---|---|---|
| وزه | بزه | بیزه | وزه |
| میندځل | وېنځل | دواړه شکلونه و منل شول | |
| میندځه | وېنځه | دواړه شکلونه و منل شول | |
| لانده | لامده | | لانده ـ لامده . |
| مښتل | نښتل | | نښتل |

٦ ـ په پښتو کښې ځینې پردی مذکر اسماء او صفات بېقاعدې جمع کیږی

طالبانان

ملکانان

بزرگانان

دا ډول جمع جوړول بالکل غلط دی باید په «ان» جمع کړه شی لکه طالبان، ملکان، بزرگان بو ر نور. فیصله چه «شپږ» مواده لری د«۱۳۳۷» ش کال دسنبلې پر پنځمه» د «۱۹۵۸» ک.ل دا گست اوه ویشتمه» د کابل دپښتو ټولنې په میلمستون کښې دلر او بر پښتونخوا دپښتنو لیکوالو ترمنځ په اتفاق و شوه.

گلپاچاالفت «دمجلس رئیس» مراد شینواری، مولانا عبدالقادر د «پېښور دپښتوا کاډمي مشر» صاحبزاده محمدادریس «دپېښور دپوهنتون استاد» حمزه شینواری.

فضل احمد غازی د «گلستان دمجلې مدیر» فضل حق شیدا «دپېښتور دمطبوعاتو آمر» صدیق الله رښتین، حبیب الله تږی مولانا



عبدالخالق تارن، سلطان محمد صابر، محمدعالم اتمان، عبدالرؤف بینوا، محمدارسلان سلیمی مولانا عزیزالرحمن سیفی میرا جان سیال؛ عبدالشکور رشاد، محمدحسن ساپی محمد حسن کاکړ، عبدالغفور و باند

دوهمه غونډه:

۱: د در یمې فیصلې د دوهمې غونډې په اومړی اصل کښې دا منلی شوی ده، چه «ق» عربی توری دې نش د عربې په الفاظو کښې را تلای شی.

مګراوس هم چه ځینې پښتنو کلمات په عربی (ق) لیکل کیږی لکه: پرقا، توقی، تقالی، قارعه، قجر، چقری ښیق، قوده، قچره، قجوري قوتی قچری خبري او داسې نور....

صحیح کار نه دی دا ډول کلمات باید په «ك» ولیکل شی نه په «ق»:

۲: د دریمې فیصلې په اومړی ماده کښې د «ن» لپاره بسیط شکل منلی شوی دی مګر د دریمې فیصلې د دوهمې غونډې په «شپږمه» ماده کښې عدول تر ینه شوی او د «ن» او «ړ» دواړو استعمال جائز شمېرل شوی دی.

ځکه چه «ن» دپښتو سانسکریټ، هندی او هسپانوی الفباء یو بسیط حرف دی د محض درونډوالی له امله مرکب توری گڼل او په صورت لیکل مناسب نه ښکاری ـ علاوه د «ړ» لیکل د «ن» پر ځای په لاندینیو ټورو کښې داسې غلیظ التباس پیښوی چه د صحیح

مرکب لیکل او تلفظ امکان ئې له منځه ځی.

نړول او مشتقات ئې

نړیدل او مشتقات ئې

نړ (د جریب څلورمه)

نړۍ نړك نړکه

نړا [د خره ناري] نړل

نړیچغ

کونړ

ځکه نو [ړ] دی به بسیط شکل لیکل کیږی او [نړ] شکل دی پرمخ متروك شی.

۳: د دوهمی فیصلی په دوهمه ماده کښی لیکلی دی.

[د زه نه ده ښه دده] په کلمو کښی د [ه] له پاسه د (ء) یعنی همزه لیکلو ته ضرورت نشته نو ترمخکښی زور وال او زور کی وال تورې وروسته [ه] به دوازه پوشان لیکلی شی.

مګر د دریمی فیصلی د دوهمی غونډې په شپږمه ماده کښی لیکلی دی چه (ء) د زور کی لپاره استعمالیږي لکه زړهٔ - تلهٔ - زهٔ - تهٔ پر دغو دوو متناقضو فیصلو باندی تر دوهمی بلاغور وروسته زره فیصله دچه «ء» د نشست حکم کوی مرجحه وګڼله شو.

٤- د «ء» استعمال د اري پښتو نخوا په لیکنو کښی د بر لیدل کیږی لکه:



الف - د الف أو «یا» یا «واو» او «یاء» تر منځ لکه

| | |
|---|---|
| لوئیدیـز | [لوید یـز] |
| خوائیندو | [خوندو-خویندو |
| اوونیل | [وویل] |
| آئینده | [آ ینده] |

ب - د کلمی د اخر پرسا کښو یا ګانو پسا ندی لکه

| | |
|---|---|
| لوی‌ء | [لوی] |
| دوی‌ء | [دوی] |
| هغوی‌ء | [هغو ی] |
| پای‌ء | [پای] |
| ځای‌ء | [ځای] |

ج- د کلمی داخر پرسا کښو [وا وو] پا ندی لکه

| | |
|---|---|
| بؤ | [بو] |
| اؤ | [او] |

دا قـول [ء] دی په لیکنه کښی جداً متروك شی.

۵- د دوهمی فیصلی په دریمه ماده کښي د مجهولې یاء مفرد او یا د کلمی په آخر کښي شکل [ې] او [ي] او د کلمی په منځ کښی سرپرسر تکی منل شوی دي.

داېاً اوس د لرې پښتونخوا په ليکنو کښې ډېر رواج لري او تقريباً په غير محل [د ملينه او معروفي ياء ګانو پر ځاى] استعماليږي لکه.

زيري - کانړى - دي مثلاً دا غونډ نوم دي - مونږ کښېنوکو شش کړي دي. غاړې مثلا ممدوت غلي دي.

ولي مثلاً عطامحمد ولي داسې او کړه او نور .....

دايا ءدى بخپل محل کښې استعماليږي لکه:

د ماضى مطلق او استمراري مخاطب مفرد صيغې مثلا ته احمد ووهلي - ته احمد وهلې د حال او استقبال مخاطب مفرد صيغي مثلا ته احمد وهې - ته به احمد ووهې ته احمد وهلاى شې - ته به احمد ووهلاى شې.

دماضى قريب او ماضى بعيد مخاطب مفرد صيغي مثلا ته احمد وهلى يې - ته احمد وهلى وې.

د ماضى قريب او ماضى بعيد مفرد مونث غايب صيغې مثلا احمد رحيمه وهلې ده - احمد رحيمه وهلې وه د اسم فاعل او اسم مفعول واحد مونث صيغه مثلا - تلونکې - تللې د مختوم به هاى ملفوظى مونثو اسماو جمع مثلا وزې - ښځې - مرې - کېږې

او داسې نور ......

د ۱۳۲۱ ش کال دسنبلې په اتمه [ د ۱۹۵۸ ع کال د اګست



ډېرشمه] چه د کابل د پښتو ټولنې په ميلمستون کښې دلراوبرې پښتونخوا د پښتنو ليکوالو ترمنځ د پښتو رسم الخط په باب غونډه وشوه يو ورتني [پنځه] مواده په اتفاق ومنل شول.

ګل پاچا الفت [د مجلس رئيس] [مولانا عبدالقادر] پېښور داکټر د يمى مشر] حبيب الله تږى مولانا قيام الدين خادم - محمد علم اتمان - صديق الله رښتين - مولانا عزيز الرحمان سيفي بيرك ځاځى - محمد حسن صابى. محمد دين ژواك - صاحبزاده محمد ادريس [د پېښور ديو هنتون استاد] - م. عبدالخالق واسعى - حمزه شينواري سعدالدين - محمد حسن كاكړ فضل احمد غازى [د ګلستان دمجلې مدير] فضل حق شيدا [د پېښور د مطبوعاتو آمر] عبدالشكور رشاد ميراجان سيال.